د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 478**

(25 جوزا - 02 سرطان 1404 هـ ش)

## د ایران او اسرائیلو جګړه: لاملونه، موخې او پایلې

---



**دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.**

# په دې ګڼه کې لولئ:


- د ایران او اسرائیلو جګړه: لاملونه، موخې او پایلې....3
- پر ایران د اسراییلو د برید لاملونه او موخې ....3
- د ایران غبرګون....6
- د جګړې د بریا وړاندوینه....6
- د جګړې پایلو په اړه راتلونکې سناریوګانې ....7
- پر افغانستان د اسراییلو او ایران د جګړې اغیزې....8
- پایله ....8
- وړاندیزونه ....9
- سرچینې ....9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د ایران او اسرائیلو جګړه: لاملونه، موخې او پایلې

### سریزه

د تېرو څو لسیزو را په دې خوا اسراییل د خپل بقا او امنیتي ګټو د خوندي کولو لپاره په سیمه کې بېلابېل نظامي او ستراتېژیک اقدامات کړي دي؛ چې یو یې هم د روان کال د جون میاشتې پر ۱۳مه نېټه پر ایران د دغه هېواد مستقیم پوځي برید دی. داسې ښکاري چې دغه برید له ډېر وخت راهیسې پلان شوی او هر اړخیز چمتووالی ورته نیول شوی وي؛ دا جګړه نه یوازې د دې دواړو هېوادونو بلکې د سیمې د هېوادونو پر امنیت، د نړۍ د هېوادونو ترمنځ په سیاسي او اقتصادي اړیکو او د انرژۍ په نړیوال مارکېټ خورا منفي اغېزې کوي. په دې جګړه کې د امریکا متحده ایالات مهم رول ترسره کوي؛ دغه هېواد په منځنۍ ختیځ کې د اسراییلو ملاتړی ګڼل کېږي او هڅه کوي چې له دې لارې د ایران پر هستوي پروګرام شدید فشار وارد کړي. اسراییل، د امریکا متحده ایالات او نور ملاتړي هېوادونه یې د ایران اټومي پروګرام د خپلو هېوادونو د امنیت لپاره لوی ګواښ بولي؛ نو ځکه هڅه کوي ترڅو دغه پروګرام له منځه یا کم تر کمه د انرژۍ د تولید تر بریده یې محدود کړي. دغه جګړه پر همدې موخه پیل شوې ترڅو د ایران د هستوي ظرفیت د پیاوړتیا مخه ډب کړي. دغه جګړه نه یوازې ښکیلو لوریو ته نظامي او پوځي زیانونه اړوي بلکې د ښکیلو لوریو ترڅنګ سیمې او نړۍ ته د کډوالۍ، اقتصاد او انرژۍ په برخه کې زیانونه رامنځته کوي او د سیمې د قدرت توزان او سیاسي ثبات به منفي اغېزې وکړي. سربېره پر دې به د نړۍ لوی قدرتونه په دې جګړه کې خپل ځانګړی رول ترسره کړي. په دې تحلیلي مقاله کې به د دې جګړې موخې، لاملونه او پایلې په لاندې توګه تحلیل شي.

### پر ایران د اسراییلو د برید لاملونه او موخې

پر ایران د اسراییلو لومړی برید پر اټومي او توغندي جوړونې تاسیساتو باندې ترسره شو؛ سربېره پر دې اسراییلو په دغه هېواد کې د پوځ مهم مشران، د انقلاب ساتونکي لوړ پوړي قومندانان او د ایران د اټومي او مزایلو پروګرام لپاره د دې هېواد مهم ساینس پوهان په نښه کړ. د دغه کړنو د ترسره کېدو پلان د پوځ د لوی درستیز ایال ضمیر (Eyal Zamir) له لوري ترتیب شوې و؛ د هغه له نظره چې ورته د ایال ضمیر دکتورین هم وایي، تر هغې چې د ایران سیاسي نظام ثابت پاتې وي؛ نو دوی به د خپلو اتومي پروګرامونو د ترسره کولو له هیلو تېر نه شي او ان تر دې چې دغه پروګرام به نظامي کړي؛ نو پر دې اساس په دغه هېواد کې د توغندیو پروګرام به په دوامداره توګه پراخ او پیاوړي شي.[1] د اسراییلو د لوی درستیز له دکتورینو ښکاري چې د ایران دواړه ( اټومي او توغندیو ) پروګرامونه، د اسراییلو د بقا لپاره جدي ګواښونه ګڼي. له همدې امله دوی هڅه کوي چې د ایران سیاسي رژیم باید بې ثباته او کمزوری کړي ترڅو دا ګواښونه له منځه لاړ او یا محدود شي. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره اسراییل اړینه ګڼي چې ایران سره په یوه پراخه او څو اړخیزه جګړه کې ښکیل



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

شي؛ اسراييلو په دې برخه کې تر يوه بريده ځينې لاسته راوړنې د دې جګړې دمخه هم لرلي دي، چې يو له هغو څخه په منځنۍ ختيځ کې د ايران ملاتړي غير دولتي پوځي ډلې دي لکه په لبنان کې حزب الله، په فلسطين کې د حماس واکمني او په سوريه کې د ايران پلوه نظام لمنځه وړل او د دې هېواد نفوذ کمول يادولای شو. کله چې اسراييلو له حزب الله سره په جګړه کې د پام وړ بريا ترلاسه کړه، په فلسطين کې يې د حماس ډلې ډيری مشران شهيدان کړل او په سوريه کې داسد رژيم پای ته ورسيد؛ نو د اسراييلو سياسي او پوځي مشرانو دا نظر درلود چې راتلونکې موخه بايد ايران وي.

په ورته وخت کې داسې ښکاري چې پر ايران د اسراييلو د بريد په اړه د امريکا متحده ايالاتو موخه د ايران د نظام نسکورېدل نه بلکې په هستوي مذاکراتو کې د پراخو امتيازاتو ترلاسه کول دي؛ نو پر همدې اساس پر ايران د اسراييلو د لومړي بريد سره سم د متحده ايالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ د دې جګړې په اړه د خپل هېواد ستراتېژيک لوری او موخه وټاکله او ټينګار يې وکړ چې د ايران سره د خبرو اترو شېږم پړاو بايد د يکشنې ورځ د جون مياشتې پر ۱۵ مه نېټه د پلان سره سم پرمخ لاړې شي؛ پر دې اساس هغه دغه جګړه په مذاکراتو کې د امتياز لپاره توجيه کړه.[2]

د ولسمشر ټرمپ دغه غوښتنه د ايران له لوري په بې قيد او شرط نه ده منل شوې بلکې ايران د جګړې دربدل غوښتي او له هغې وروسته يې مذاکراتو ته لېوالتيا ښودلې ده. د ايران د بهرنيو چارو وزارت په وروستۍ اعلاميه کې چې د روان کال د جوزا مياشت په ۲۷ نېټه د دې وزارت په وېبسايټ کې خپره شوې، راغلي دي (( پر ايران د نتانياهو د بريد موخه داده چې د امريکامتحده ايالاتو او ايران ترمنځ د هوکړې پر وړاندې خنډ رامنځته کړي، هغه هوکړه چې موږ په يوې سمې لاره ورته د رسېدو په موخه حرکت کاوه، هغه د بياځلي لپاره غواړي چې د امريکامتحده ايالاتو ولسمشر او امريکايي ماليه ورکوونکو ته په بشپړه توګه فرېب ورکړي)).[3] د دې اعلاميې په وروستۍ برخه کې راغلي دي (( که ولسمشر ټرمپ واقعا په ډيپلوماسي باور لري او غواړي چې دا جنګ ودرېږي، راتلونکې مرحلې مهمې دي. اسراييل بايد خپل بريدونه ودروي، زموږ پر وړاندې د بشپړنظامي يرغل درولو پرته به زموږ ځوابونه ادامه ولري، له واشنګټن څخه يوه تلفوني اړيکه بسنه کوي چې يو شخص لکه نتانياهو چپ کړي، دا کولای شي ډيپلوماسي ته د بېرته ورګرځېدو لاره هواره کړي)).[4]

د پورته اعلاميې له متن څخه په روښانه توګه څرګندېږي چې ايران به د اتومي پروګرام په اړه د مذاکراتو لپاره هغه مهال بېرته ستون شي چې جګړه ودرېږي؛ پرته له جګړې لکه څرنګه چې يې د امريکا متحده ايالاتو ولسمشر غوښتنه کړې چې په عادي توګه به د شپږم پړاو مذاکرات ترسره شي ناشونې ښکاري. په منطقي توګه هم دا خبره ناسمه ده چې د يوې موضوع د حل لپاره د له يوې خوا مذاکره جريان ولري او له بلې خوا د جګړه هم روانه وي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ضمیر په دکتورینو کې د استخباراتي عملیاتو پر اساس د ایران د توغندیو د ظرفیت، هوایي دفاع او اتومي تاسیساتو د ویجاړول او د خنثی کول هم شامل دي، سربېره پر دې په دې دکتورینو کې د ایران اقتصادي محاصره، د کورنیو شخړو او ګډوډیو رامنځته کول او د دې هېواد دتیلو صادرات ګډوډول د اسراییلو له مهمو موخو څخه ګڼل کېږي.[5] تر ډېره بریده په دې جګړه کې لیدل کېږي چې اسراییل نه دی توانیدلی د ضمیر د دکتورینو ټولې موخې ترلاسه کړي ان تر دې چې داسې ښکاري چې اسراییل په خپلو لومړنیو بریدونو کې د ایران د تیلو د زیر بناوو له هدف ګرځولو څخه ډډه کړې وه؛ دا دریځ ښایي د امریکا متحده ایالاتو د موقف په نظر کې نیولو سره ترسره شوی وي او موخه یې د انرژۍ د بحران مخنیوي وي چې له کنټروله به ووځي او د نړۍ پر اقتصاد به منفي اغېزې وکړي، د ایران د تیلو زیربناوې د فشار پیاوړې سیاسي اله ګڼل کېږي او ویجاړول به یې نړیوالې پایلې له ځانه سره ولري.  خو په وروستیو برېدونو کې یې دې موضوع ته ارجحیت نه دی ورکړی.

که څه هم د اسراییلو لومړی وزیر بنجامین نتانیاهو د پراخ ملي صیهونستي اجماع له ملاتړ څخه برخمن دی، خو هغه هوډ لري چې د امریکا متحده ایالات د اسراییل ـ ایران جګړه کې ښکیل کړي. په اسراییلو کې دا باور شته چې د امریکا متحده ایالاتو له بشپړ نظامي ملاتړ پرته، اسراییل نه شي کولای د ایران اتومي پروګرام په بشپړه توګه له منځه یوسي. د اسراییلو له دې فکر سره بیا هم د دې ضمانت نه شته چې د امریکا په ملاتړ به هم دغه هېواد د ایران اتومي پروګرام له منځه یوړل شي، ځکه چې غني شوي یورانیم لېږدول کېدای او خوندي کېدای شي.

اسراییل په دې جګړه کې ایران هڅوي چې په سیمه کې د امریکامتحده ایالاتو اډې تر برید لاندې ونیسي؛ ترڅو خپل موخه چې د ایران د د دولت ړنګول او د هغو د رژیم له منځته وړل دي، ترلاسه کړي. فکر کېږي چې د اسراییلو دغه فکر د سیمې او نړۍ د نورو هېوادونو چې نه غواړي په منځنۍ ختیځ کې کړکیچ پراخ شي ټکر لري، دغه هېوادونه فکر کوي چې که جګړه پراخه شي نو ملي ګټې او اقتصادي سیستمونه له مستقیم ګواښ سره مخ کېږي.

سربېره پر دې له جګړې د اسراییلو موخه نه یواځې د ایران پوځي او تخنیکي وړتیاوې که په ملکي برخه کې دي او که په نظامي برخه کې دي، له منځته وړل نه دي، بلکې د دې موخو ترڅنګ غواړي چې په منځنۍ ختیځ کې د قدرت توازن د ځان په ګټه را وڅرخوي، د خپلې واکمنۍ او تسلط دایره پراخه کړي او ان د منځنۍ ختیځ جغرافیوي نقشه بدله کړي؛ ترڅو په سیمه کې اسراییل په نورو ټولو هېوادونو لاس بری وي او هیڅ سیمه ییز قدرت د دې وړتیاوې ونه لري چې د اسراییلو ګټې وګواښي. په همدې موخه د اسراییلو لومړي وزیر څو ځله د نوي منځني ختیځ اصطلاح کارولې ده او نوموړي د ملګرو عمومي اسمبلې ته په خپله یوې وینا کې دوه نقشې ارایه کړې چې په دواړو کې یې د فلسطین په اړه هیڅ یادونه نه ده کړې.[6]


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د ایران غبرگون

د اسراییلو او ایران ترمنځ د تېرې جګړې په پرتله دا ځل ایران د اسراییلو د تېرې پر وړاندې پیاوړی او ویجاړوونکی غبرګون ښودلی دی، دا ځل د ایران غبرګون د پرمختللو مزایلو پر اساس وښودل شو چې د اسراییلو د اوسپنیز ګنبد او د متحدینو د دفاعي سیستمونو څخه تېر او د دې هېواد په څو لویو ښارونو کې یې بې سارې ویجاړې رامنځته کړې، د ایران دغه دقیق برېدونه په تل ابیب کې د اسراییلو دفاعي ځواکونو مرکز او ان د اسراییلو استخباراتي اداري (موساد) ته ورسېدل؛ خو دغه مهال هم د ایران دولتي رسنیو یوه اعلامیه خپره کړه چې د ایران پوځ د اسراییلو پر وړاندې تر دې دمه پرمختللې او ستراتېژیکې وسلې نه دي کارولې.[7] که د ایران دغه اعلامیه حقیقي وي؛ نو داسې فکر کېدای شي چې ایران یوې دوامداره شخړې ته چمتو والی نیسي او د اړتیا او جدي ګواښ په صورت کې به خپلې پرمختللې او په تکنالوژۍ سنبالې وسلې وکاروي.

د ایران پوځ د دې هېواد د ستر رهبر علي خامنه يي هغه ژمنه چې ویلي يې و( اسراییل به د دې جرم د ترسره کولو له امله خوندي پاتې نه شي) د پوره کولو لپاره په اسراییلو د بالیستیک توغندیو څپې پیل کړې. دې برېدونو په اسراییلو کې خورا مرګ ژوبله او مالي زیانونه رامنځته کړل او پر اساس یې په اسراییلو کې د لومړۍ ورځې د برید خوشحالۍ په وېرې او بې باورۍ بدلې شوې. دغه وېرې د دې لامل شوې چې اسراییلیان په څو برخو وویشل شي یو داچې ځینې اوسمهال هم غوښتنه کوي چې له ایران سره باید د امریکا متحده ایالاتو خبرې بېرته پیل شي، ځینې یې د دې هېواد لومړی وزیر تورنوي چې د خپلو سیاسي ګټو لپاره د هېواد له ملي امنیت سره لوبې او قمار بازي کوي او ځینې اوسمهال هم د هغه د پرېکړې پلوه دي؛ نو پر دې اساس تر دې چې اسراییلو خپلې موخې چې پورته مو یادې کړې، نه وي ترلاسه کړې د جګړې درول ستونزمن دي او له بلې خوا ایران هم داسې ماتې نه شي زغملای چې د دوی د رژیم په نسکورېدو د پای ته ورسېږي او ایران به هڅه وکړي چې اسراییلو ته اعظمي زیان واړوي؛ نو ځکه د اسراییلو اندېښنه یې رامنځته کړې ده.

## د جګړې د بریا وړاندوینه

تر دې دمه په څرګنده توګه د قدرت توازن نه شي څرګندېدلی، ځکه چې له یوې خوا اسراییل د امریکامتحده ایالاتو او برتانیې په پوځي او استخباراتي تکنالوژیو باندې تکیه لري، داچې د اسراییلو هدف د ایران د رژیم نسکورول دي نو په ایران کې هر ډول بې ثباتي د دې هدف د ترلاسه کولو لپاره پرمختګ ګڼل کېږي. سربېره پر دې د ایران په خاوره کې د اسراییلو له لوري په بریالیتوب سره داسې برید ترسره کول چې د دې هېواد د پوځ او استخباراتو لوړ پوړو چارواکو په ګډون یې مهم ساینس پوهان په نښه شول د دې هېواد د پیاوړي موقف څرګندونه کوي. همدارنګه د ایران په فضا کې په دوامداره توګه د اسراییلو د الوتکو عملیات



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

او د دواړو لوریو په وژل شویو اشخاصو کې لوی توپیر ( تر دې دمه د ایران 657تنه چې ۲۲۳ تنه یې ملکي وګړي دي او د اسراییلو ۱۴ تنه وژل شوي دي)[8] د اسراییلو پیاوړتیا څرګندوي. له بله لوري په یوازې توګه د داسې یوه هېواد سره چې د نړۍ لوی قدرتونه یې ملاتړ کوي د ایران جنګېدل او د سوونو کیلومتره واټن درلودلو سربېره هلته هوايي عملیات ترسره کول او د دښمن هېواد مهم نظامي او استخباراتي تاسیسات په نښه کول د ایران د پیاوړتیا او برم څرګندونه کوي.

د دې ټکي یادول هم اړین دي هغه داچې اوس هم جګړه روانه ده او تر ډېره بریده یې د بریا په اړه اټکل کول ستونزمنه ښکاري او سربېره پر دې اسراییل غواړي تر هغه مهاله پورې جګړه وغزوي چې د دوی نظامي موخې ترلاسه شي او له بله پلوه ایران وايي چې د برید پرمهال له زغم څخه ګټه نه شي پورته کېدای او له خپلې خاورې، خلکو، کرامت او لاسته راوړنو څخه به دفاع کوي. نو پر دې اساس ویلای شو چې دغه جګړې شاید نور وخت هم ونیسي. خو په دې برخه کې تر ټولو مهمه مسله داده چې د امریکا متحده ایالات په څه ډول عمل کوي.

## د جګړې پایلو په اړه راتلونکې سناریوګانې

داچې جګړه اوسمهال هم جریان لري؛ نو لاندې سناریوګانې د وړاندوینې وړ دي.

۱ ـ د ایران د نظام د نسکورولو سناریو: که جګړه د اسراییلو له لوري د ایران د نظام د له منځه وړلو لپاره پیل شوې وي، نو د اوږدمهاله جګړې احتمال ډېر دی. په دې سناریو کې، د امریکا متحده ایالات به تر ټولو ډېرې ګټې ترلاسه کړي. له یوې خوا به امریکامتحده ایالات پر اسراییلو خپلې پرمختللې وسلې خرڅې کړي او له بلې خوا به د جګړې اوږدېدل ایران اړ کړي چې خپل نظامي ظرفیتونه ښکاره کړي او دا د دې لامل شي چې د سیمې هغه عربي هېوادونه چې له ایران سره ترینګلې اړیکې لري، وهڅوي چې له امریکا متحده ایالاتو څخه وسلې وپېري، چې په پایله کې به د امریکا اقتصادي او ستراتیژیک موقعیت نور هم پیاوړی شي.

۲ ـ د سیاسي فشار سناریو: که دا جګړه یوازې د مذاکراتو لپاره د فشار وسیله وي، نو امکان لري چې ژر پای ته ورسېږي. په دغه حالت کې به ایران د جګړې د درولو لپاره مقابل لوري ته ځینې مهم امتیازونه ورکړي، چې دا به د ایران د سیمه‌ییز نفوذ او سیاسي دریځ پر کمزورتیا تمام شي.

۳ ـ د اسراییلو د بریا سناریو: که اسراییلو په دې جګړه کې بریالی شي؛ نو په دې صورت کې به په راتلونکې کې د خپل جغرافیوي قلمرو د پراختیا هڅه وکړي او هلته به د خپلو ګاونډیو هېوادونو د قلمرو نیونې لپاره بېلابېل اقدامات وکړي، په سیمه کې به د اسراییلو پر وړاندې مقاومتونه نور هم کمزرې شي، د فلسطین مسله به په خپله معادله کې حل کړي او په پای کې به د دې هېواد ستراتېژیک، استخباراتي او سیمه ییز نفوذ پراخ او په سیمه کې یو برلاسی دولت خپل کړي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

۴ ـ د ایران د بریا سناریو: که په روانه جگړه کې ایران بریالی شي؛ نو دغه بریا نه یواځې د اسراییلو ماتې ګڼل کېږي بلکې د امریکا متحده ایالاتو ماتې هم ګڼل کېږي، د ایران هېواد به په کور دننه لا هم مشروعیت پیدا کړي او د نظام سیاسي ثبات دوام ته به نور هم فرصتونه برابر کړي. سربېره پر دې به په منځني ختیځ کې د ایران ملاتړې ډلې بېرته پیاوړې شي او د اسراییلو د پیاوړتیا، ان د لمنځته وړلو لپاره خپلې هڅې لا ګړندۍ کړي. سربېره پر دې به په سیمه کې د ایران نفوذ پراخ شي او د سیمې په امنیتي معادلو کې به پراخ لاس برې رول ولوبوي او هغه عربي هېوادونه چې له ایران سره ترینګلې اړیکې لري، هڅه به وکړي چې له ایران سره د تفاهم مسیرونه پیدا کړي.

## پر افغانستان د اسراییلو او ایران د جګړې اغېزې

هره جګړه نه یواځې داچې ښکیلو لوریو ته بلکې د سیمې هېوادونو په ځانګړې توګه ګاونډیو هېوادونو باندې منفي اغېزې کوي، افغانستان چې د ایران په ګاونډ کې پروت دی او د انرژۍ یوه برخه له دغه هېواد څخه واردوي؛ نو د ایران د انرژۍ په تاسیساتو د اسراییل برېدونه بنایي د دغه هېواد د انرژۍ تولید او صادرات کم کړي او له امله به یې د انرژۍ ( تیل او ګاز) قیمتونه عملا لوړ شوي او نور به هم لوړ شي او افغانستان به په اقتصادي لحاظ په مستقیمه توګه له دې جګړې څخه نور هم اغېزمن شي. سربېره پر تیلو او ګازو افغانستان د بربېښنا یوه برخه، ځینې غذایي او ساختماني مواد هم له دغه هېواد څخه واردوي او د دې جګړې پر اساس به دغه واردات ټکني او د خلکو په ورځنې ژوند به منفي اغېزې وکړي. په امنیتي لحاظ به دغه جګړه د دواړو هېوادونو د پولو امنیت ته زیان واړوي. د بېلګې په توګه ترهګرو ډلو او د مخدره موادو او انساني قاچاق وړونکو ته د فعالیت فرصت برابر کړي. سربېره تجارتي لارې به له امنیتي اړخه اغېزمنې کړي او هغه سیمه ییز اتصال چې د ایران له لارې یې افغانستان د منځني ختیځ او هند سره ترسره کوي له خنډ سره مخ کړي. سربېره پردې به نه یواځې افغان مهاجر چې اوسمهال ایران کې ژوند کې افغانستان ته په مجموعي توګه بېرته را ستانه شي؛ بلکې افغانستان ته به د ایراني مهاجرو څپه هم پیل شي او دغه ټکی به له اقتصادي اړخه په افغانستان منفي اغېزې وکړي.

## پایله

اسراییل په منځني ختیځ کې د امریکا متحده ایالاتو نیابتي جګړې مخ ته وړي؛ نو ځکه په بېلابېلو جګړو کې پوځي او استخباراتي ملاتړ کوي؛ د اسراییلو او ایران روانه جګړه هم له دې ملاتړه مستثنا نه ده. دا جګړه په ساده اصطلاح هغه متل ته ورته ده چې وایي (په مرګ یې ونیسه درد ته خپله راضي کېږي) د امریکا متحده ایالاتو اسراییل د جګړې میدان ته مخ ته کړي او د ایران د نظام د نسکورېدو شعارونه ورکوي؛ ترڅو له دې لارې وکړای شي چې د ایران او امریکا متحده ایالاتو په هستوي مذاکراتو کې بریالی لاس او ډېر امتیازات



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ولري. د امریکا متحده ایالات نه غواړي چې په منځني ختیځ کې د ایران اوسنی نظام نسکور شي؛ ځکه چې د دې نظام د موجودیت پر اساس په یو شمېر عربي هېوادونو وسلې پلوري او په یو نا یو ډول ترې سیاسي او اقتصادي باج اخلي. افغانستان چې د ایران په ګاونډ کې پروت دی؛ نه یواځې داچې له دې هېواد څخه تجارتي توکي واردوي بلکې د دې هېواد له لارې د سیمې او نړۍ نورو هېوادونو سره اقتصادي راکړه ورکړه کوي له خنډ سره مخ کړي او د مهاجرو او پناه غوښتونکو له لویې ځپې سره به مخ شي؛ نو اړینه ده چې د قضیې دواړه لوري د جګړې پرځای د اختلافاتو د لمنځه وړلو لپاره سوله ییزې حل لارې وټاکي.

## وړاندیزونه

۱ ـ داچې اسراییل په مسلسله توګه په سیمه کې د خپل نفوذ د پراخېدو په حال کې دی، چې د ټول اسلامي نړۍ لپاره ګواښ ګڼل کېږي؛ نو ټوله اسلامي نړۍ د د اسراییلو دغه پراختیا غوښتنې سیاست د مخنیوي په موخه سره یو موټې شي او ګډه پالیسي د خپله کړي.

۲ ـ د افغانستان اسلامي امارت د هڅه وکړي چې د دې جګړې د منفي اغېزو د مخنیوي په موخه په ځانګړې توګه په اقتصادي او سوداګریزه برخه کې بدیلې لارې چارې ولټوي.

۳ ـ که جګړه پراخېږي؛ نو اسلامي امارت د ایراني پناه غوښتونکو ته، افغانستان ته د را ننوتلو اجازه ورکړي او په دې برخه کې د مخکې له مخکې یوڅه چمتووالی ونیسي.

۴ ـ داچې افغانستان له ایران سره ګډه پوله لري؛ نو اسلامي امارت د سیمې یو شمېر هېوادونو ته ډاډ ورکړي چې کولای شي د هغوی اتباعو ته په لنډمهاله توګه په افغانستان کې ځای ورکړي او یا داچې د افغانستان له لارې یې اړوند هېوادونو ته واستوي.

## سرچیني

[1] Ameer Makhoul, Context and Implications of the Direct War Between Israel and Iran, Progress Center for Policies, published date: Jun 15, 2025, available at: https://www.arabprogress.org/en/context-and-implications-of-the-direct-war-between-israel-and-iran/

[2] Ameer Makhoul, Context and Implications of the Direct War Between Israel and Iran, Progress Center for Policies, published date: Jun 15, 2025, available at: https://www.arabprogress.org/en/context-and-implications-of-the-direct-war-between-israel-and-iran/

3وزارت خارجه جمهوری اسلامی ایران، پیام هشدار سید عباس عراقچی وزیر امور خارجه در شبکه ایکس، تاریخ نشر۱۴۰۴/۳/۲۷، لینک انلین:

https://mfa.gov.ir/portal/newsview/768674

[4] پورتنی ماخذ.

[5] Ameer Makhoul, Context and Implications of the Direct War Between Israel and Iran, Progress Center for Policies, published date: Jun 15, 2025, available at: https://www.arabprogress.org/en/context-and-implications-of-the-direct-war-between-israel-and-iran/

6بی بی سی فارسی، شکل گیری جدید که اسراییل برای خاور میانه تصور میکند چیست؟ تاریخ نشر، ۱۴۰۳ اکتبر ۹، دسترسی انلین: https://www.bbc.com/persian/articles/cly5w8y29y2o

7 The soufan center, The Implications of Israel's Attacks on Iran, published date: June 16, 2025, available at: https://www.israelnationalnews.com/news/409909#:~:text=IDF%20Chief%20of%20Staff%20Eyal%20Zamir%20issues%20statement,an%20enemy%20who%20is%20intent%20on%20destroying%20us.%22

[8] CBS NEWS, Iranian strike in Israel injures nearly 2 dozen, emergency officials say, amid diplomatic efforts, published date: June 20, 2025, available at: https://www.cbsnews.com/news/israel-iran-strikes-continue-middle-east-diplomacy/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000